دافغانستان اسلامي جمهوريت

دعدليې وزارت


# رسمي جريده

## دعسكري جزا قانون

## قانون جزای عسکری


د خپريدو نېټه:د ۱۳۸۷ هـ .ش كال دغوايي د مياشتې (۱۰)

پرله پسې نمبر: (۹۴۴)

تاريخ نشر : (۱۰) ثور سال ۱۳۸۷ هـ . ش

نمبر مسلسل: (۹۴۴)

## در این شماره :

**فرمان شماره(۹) مؤرخ ۱۳۸۷/۱/۲۸ رئیس ج.ا.ا در مورد توشیح قانون جزای عسکری.**

**قانون جزای عسکری صفحه (۱).**


| | |
|---|---|
| **د امتیاز خاوند:** | **دعدلیي وزارت** |
| وب ســــــایت: | www.moj.gov.af |
| مسؤول چلوونکی: | عبدالرشید "قیومي" |
| د دفتــر تیلــفون: | ۲۱۰۳۳۷۵ |
| ۰۷۰۰۲٦۰۲۷۴ | – ۰۷۰۰۰۱۱۸۳۸ |
| مرستــــــیــــال: | نور عــــلـــم |
| | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتــــــمـــم: | محـــمد جـــان |
| | ۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲ |

قیمت این شـــــماره : (۵۰) افغاني

تیـــــراژ چاپ اول: (۳۰۰۰) جلد

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات، چهارراهي پشتونستان، کابل

## دعسکري جزا دقانون دتوشيح په هکله د افغانستان داسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

ګڼه :(۹)
نېټه : ۱۳۸۷/۱/۲۸

لومړۍ ماده :
دافغانستان داساسي قانون دڅلورشپېتمې مادې د (۱٦) فقرې او سلمې مادې له مخې ،په (۳) فصلونو او (۴۸) مادوکې دعسکري جزا دقانون د تصويب په اړه د ۱ . ۱ . ج دملي شوري دولسي جرګې او مشرانو جرګې د ګډ هيئت (۸۳) ګڼه پرېکړه ليک ، توشېح کوم .

دوه يمه ماده :
دغه فرمان دتوشيح له نېټې څخه نافذ او له پرېکړي سره يوځاي دې په رسمي جريده کې

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد توشيح قانون جزای عسکری

شماره : (۹)
تاريخ ۱۳۸۷/۱/۲۸

مادهٔ اول :
به تأسی ا زحکم فقره (۱٦) ماده شصت و چهارم و ماده صدم قانون اساسي افغانستان ، فيصله شماره (۸۳) هيئت مختلط ولسی جرگه و مشرانو جرگه شورای ملی ج . ا . ا را مبنی برتصويب قانون جزای عسکری در (۳) فصل و (۴۸) ماده توشيح مي دارم .

مادهٔ دوم :
اين فرمان ازتاريخ توشيح نافذ و همراه با فيصله درجريده رسمی

خپورشي .

**حامد "کرزی "**

**دافغانستان داسلامي**

**جمهوريت رئيس**

نشر گردد.

**حامد "کرزی "**

**رئيس جمهوری اسلامی**

**افغانستان**

**دافغانستان اسلامي جمهوريت**

**ملي شوري**

**دعسكري جزادقانون په**

**هكله دملي شوري مصوبه**

**ګڼه :(۸۳)**

**نېټه : / /۱۳۸۷**

داساسي قانون دسلمې مادې دحكم مطابق ،دملي شوري ګډ هيئت (دهرې جرګې له دريو دريوغړوڅخه جوړ) دعسكري جزا قانون په (۳) فصلونو او(۴۸) مادو كې د ۱۳۸٦ كال دكب دمياشتې په نهمه نېټه تصويب كړ.

**دګډ هيئت رئيس**

**عبدالهادي "صافي"**

**دګډ هيئت منشي**

**منور "نظامي "**

**جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**مصوبهٔ شورای ملی درمورد**

**قانون جزای عسکری**

**شماره : (۸۳)**

**مؤرخ : / /۱۳۸۷**

مطابق حکم مادهٔ صدم قانون اساسی ،هیئت مختلط شورای ملی (مرکب از سه سه عضو از هرجرگه ) قانون جزای عسکری را به تاریخ ۹ ماه حوت سال ۱۳۸٦ در(۳) فصل و (۴۸) ماده تصویب نمود.

**رئیس هیئت مختلط**

**عبدالهادی "صافی"**

**منشی هیئت مختلط**

**منور "نظامی "**

# فهرست مندرجات

## قانون جزای عسکری

## فصل اول

## احکام عمومی

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | | |
| | مبنی | ۱ |
| مادهٔ دوم: | مفهوم جرایم عسکری | ۱ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۲ |
| مادهٔ چهارم: | ساحهٔ تطبیق قانون ازحیث اشخاص | ۴ |
| مادهٔ پنجم: | تنزیل رتبهٔ عسکری وکسرمعاش | ٦ |
| مادهٔ ششم: | طرد | ۷ |
| مادهٔ هفتم: | برطرفی ازوظیفه | ۸ |
| مادهٔ هشتم: | حکم مصادره | ۹ |
| مادهٔ نهم: | اشتراک درجرایم عسکری و کتمان آن | ۱۰ |
| مادهٔ دهم: | جبران خساره | ۱۰ |
| مادهٔ یازدهم: | تعلیق مجازات حبس | ۱۱ |

## فصل دوم

## جرایم ومجازات

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ دوازدهم: | تعلل منسوب عسکری از خدمت وظیفوی | ۱۱ |
| مادهٔ سیزدهم: | غیابت خودسرانهٔ منسوب عسکری | ۱۲ |

مادۀ چهاردهم ترک خودسرانۀ قطعه درحالت سفر یا جنگ یا محاربه..............................................۱۴
مادۀ پانزدهم: فرار..................................................۱۴
مادۀ شانزدهم: خیانت به وطن.........................................۱۵
مادۀ هفدهم: تسلیمی از اثر ترس ووهم..........................۱۷
مادۀهجدهم: فرار از صحنۀ محاربه یا امتناع از استعمال سلاح ...............................................۱۷
مادۀ نزدهم: واگذاری وسایل پیشبرد جنگ به دشمن..............۱۸
مادۀ بیستم: عدم اطاعت...........................................۱۸
مادۀبیست ویکم: تهدید آمر...........................................۱۹
مادۀ بیست ودوم: توهین منسوب عسکری..........................۲۰
مادۀ بیست وسوم: توهین یک عسکر توسط عسکردیگر با عمل اجباری ...........................................۲۱
مادۀ بیست وچهارم: بغاوت عسکری...............................۲۱
مادۀ بیست وپنجم: نقض مقررات اجرای نوکریوالی...............۲۲
مادۀ بیست وششم: نقض مقررات خدمات قراول.................۲۳
مادۀ بیست وهفتم: نقض مقررات گزمه ........ ..................۲۴
مادۀ بیست وهشتم: نقض مقررات خدمات داخله.................۲۵
مادۀ بیست ونهم: نقض مقررات پرواز ها یا احضارات برای آن.۲۶
مادۀ سی ام: نقض مقررات رانندگی .........................۲۷
مادۀ سی ویکم: نقض مقررات حفاظت واستعمال تخنیک عسکری.......................................۲۸

مادۀ سی ودوم: نقض مقررات استعمال سلاح ،مهمات ، مواد منفلقه وسایر مواد خطر ناک ..........................۲۹
مادۀ سی وسوم: نقض سایر مقررات عسکری......................۳۰
مادۀ سی وچهارم: اکتساب غیر قانونی سلاح ، مهمات ،مواد منفلقه، تخنیک عسکری و سایر وسایل محاربوی........۳۱
مادۀ سی وپنجم: فروش یا خریداری سلاح ، مهمات ، مواد منفلقه ، تخنیک عسکری وسایروسایل محاربوی..........۳۳
مادۀ سی وششم: مفقودی یا تخریب سلاح ،مهمات ،مواد منفلقه ، تخنیک عسکری وسایروسایل محاربوی..........۳۴
مادۀ سی وهفتم: ازبین بردن وعارضه دار ساختن سلاح ، مهمات ، تخنیک عسکری وسایر وسایل محاربوی.........۳۵
مادۀ سی وهشتم: افشای معلومات عسکری حاوی اسرار دولتی....۳۶
مادۀ سی ونهم: سوءاستفاده ،تجاوزویاعدم استفاده از صلاحیت..۳۸
مادۀ چهلم: غفلت وسهل انگاری دروظیفه .................۳۹
مادۀچهل ویکم: برکنارنمودن ازمقام ویاصلاحیت قانونی..........۴۰
مادۀچهل ودوم: فرار ومقاومت حین گرفتاری......................۴۱
مادۀچهل وسوم: فراراز بازداشت ،توقیف خانه ویا محبس.........۴۲
مادۀچهل وچهارم: تخریب و اتلاف دارائی شخص.................۴۲
مادۀچهل وپنجم: ضرب و جرح...................................۴۳
مادۀچهل وششم: تهدید...........................................۴۴

## فصل سوم

## احکام نهائی

مادهٔچهل وهفتم: تطبیق احکام قانون جزا..............................۴۵
مادهٔچهل وهشتم: تاریخ انفاذ.......................................۴٦

## دعسکري جزا قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د اووه ويشتمې مادې دحکم پربنسټ په مسلحو قواوو (ملي اردو ) کې دقانونيت ، نظم،دسپلين او انضباط دتحکيم لپاره دعسکري منسوبانو د دنده ايزو جرمونو دټاکلو او دهغو د مرتکبينو دمجازاتولو په منظور ، وضع شوی دی.

**دعسکري جرمونو مفهوم**

**دوه يمه ماده :**

عسکري جرمونه په دې قانون کې دقابليت او دمسلحو قواوو دمحاربوي احضاراتو او دعسکري خدمت په ترسره کولو کې دټاکلي نظم،دسپلين اوانضباط پرضد جرمونه شامل دي.

## قانون جزای عسکری

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول :**

این قانون به تأسی از حکم مادۀ بیست وهفتم قانون اساسی افغانستان به منظور تعیین جرایم وظیفوی منسوبین عسکری ومجازات مرتکبین آن جهت تحکیم قانونیت، نظم ، دسپلین وانضباط درقوای مسلح (اردوی ملی)، وضع گردیده است.

**مفهوم جرایم عسکری**

**مادۀ دوم:**

جرایم عسکری در این قانون شامل جرایم علیه قابلیت و احضارات محاربوی قوای مسلح نظم،دسپلین وانظباط در انجام خدمت عسکری می باشد.

اصطلاحگانې

دریېمه ماده:

لاندې اصطلاحگانې په دې قـــانون کې دلاندې مفاهیمو لرونکې دي:

۱- عسکري منسوب : افـــسران، دقطعې او مکتبي واړه ضـــابطان ، دنظامي تعلیمي مؤسسو طـــلاب ، سرتیري او نورهغه اشخاص چې په محاربه کې د مسلحو قواوو مرسته کوي.

۲-د جګړې حالت : دافغانـــستان دمسلحو قواوو او د دښمن دقواوو ترمنځ دخصومت حالت دی .

۳- دمحـــاربې حالـــت: لـــه دښمنوګروپونو سره دمسلحو قواوو دقطعې او عسکري جزوتام بالفعل تصادم دی یاهغه حالت دی چـــې عسکري قطعـــې او جزوتامونـــه د دښمن د دفع او طرد یامـــاتې پـــه غرض توظیف شـــوي وي. دغـــه حالت له پیل څخه ترپایـــه پـــورې محاربوي دنده احتوا کوي.

اصطلاحات

مادۀ سوم:

اصطلاحات آتی در ایـــن قـــانون دارای مفاهیم ذیل می باشد:

۱-منسوب عسکری :افـــسران ، خوردضـــابطان قطعـــه ومکتبـــی، طلاب مؤسسات تعلیمی نظـــامی ، سربازان وسایر اشخاصی که قوای مـــسلح را در محاربـــه همراهـــی می کنند .

۲- حالت جنگ : حالت خصومت میان قوای مسلح افغانستان و قوای دشمن می باشد.

۳- حالت محاربه : تصادم با لفعل قطعه وجزوتام عـــسکری قـــوای مسلح باګروپ های دشمن بـــوده یا حالتی است که قطعات وجزوتام های عسکری غرض دفع وطـــرد یا شکست دشمن توظیف شـــده اند. این حالـــت از شـــروع الـــی ختم وظیفۀ محـــاربوی را احتـــوا می نماید.

۴- د ســـــفرحالت: عـــــسكري سوقيات او حركتونــه دي چــې دهېواد كورنی اسايش ياامنيت دهغو ايجاب كوي او له دښــمن ســره تصادم واقع شوی نه وي.

۵- دحــــضرحالت: دجګـــــړې، محاربې او سفر له حالتونو څخـــه پرته حالت دی.

٦- درانه عواقــب: دمحـــاربوي دندې دترسره كولو ناشوني كېدل ، لويه مالي خساره(له يوملیون افغانيو څخه زياته)، دوسايطو دتخريب او انهدام په اثر دقطعې يـــا جزوتـــام دمحاربوي احضاراتو او قابليـــت دسطحې كـــښته راتــګ، ځـــاني تلفـــات ، حريـــق ، دعـــسكري زېرمتونونو(ديپوګـــانو) او نـــورو تأسيساتو تخريبېدل دي.

۷-زيان بخښونكي عواقب: مـــالي ډېرزيات زيان له سل زره څخه تريو مليون افغانيو پورې ، داشخاصـــو جـــسمي جراحـــت او دوســـايطو عارضه داره كول دي.

۴- حالـــت ســـفر: ســـوقيات و حركات عسكری بوده كه آسايش داخلی يا امنيت كشور ايجاب آنرا می نمايد وتصادم با دشمن واقـــع نگرديده باشد .

۵- حالت حـــضر: بـــه غيـــر از حالات جنگ ، محاربـــه وســـفر می باشد .

٦- عواقب سنگين : بهم خوردن اجرای وظيفۀ محاربوی ،خـــسارۀ بزرگ مالی بيشتر از يک مليـــون افغـــــانی ، پـــــايين آمــــدن ســـطح احـــضارات و قابليـــت محـــاربوی قطعـــه يـــا جزوتـــام بالاثر تخريب و انهدام وســـايط ، تلفات جانی ، حريـــق ،تخريـــب ديپوها و ساير تأسيسات عسكری می باشد.

۷-عواقب زيان بخش:خـــسارات هنگفت مالی مبلغ يک صد هـــزار افغانی الی يک مليـــون افغـــانی ، جراحت جسمی اشخاص و عارضه دار ساختن وسايط می باشد.

۸- دپام وړ ضرر:له لس زرو څخه ترسل زرو افغانيو پورې دمحاربوي ټاکلې دندې د ترسره کولو اخلالول، په قطعې يا جزوتام کې دعسکري نظم او انضباط جدي تضعيفول، دعسکري تخنيک او نورو تجهيزاتو له منځه وړل او عارضه داره کول .

۹- مصادره: دمنقولو او غيرمنقولو وجوهو او شتمنيو دمالکيت سلبېدل دي چې د واکمنې محکمې د وروستنې حکم په اساس صورت مومي او دهغه په موجب وجوه او شتمنۍ د هغو له مثبته سندونو سره دولت ته لېږدول کېږي.

## د قانون دتطبيق ساحه داشخاصو له حيثه

**څلورمه ماده:**

ددې قانون حکمونه په لاندې اشخاصو باندې د تطبيق وړ دي:

۱-هغه شخص چې عسکري تحليف (سوگند)ئې پرځای

۸- ضررقابل ملاحظه:مبلغ ده هزار الی یک صد هزار افغانی ، اخلا ل اجرای وظيفهٔ مشخص محاربوی ، تضعيف جدی نظم وانضباط عسکری در قطعه يا جزوتام ، از بين بردن يا عارضه دار ساختن تخنيک و ساير تجهيزات عسکری می باشد.

۹- مصادره: سلب مالکيت دايمی وجوه و دارايی های منقول و غيرمنقول بوده که به اساس حکم نهايی محکمهٔ ذيصلاح صورت گرفته و به موجب آن وجوه و دارايی ها با اسناد مثبتهٔ آن به دولت انتقال می نمايد .

## ساحهٔ تطبيق قانون از حيث اشخاص

**مادهٔ چهارم:**

احکام اين قانون بالای اشخاص ذيل قابل تطبيق می باشد:

۱- شخصی که تحليف عسکری را به جا نموده

کړی وي.
۲–هغه شخص چې قانوني سن ئې بشپړکړی او په داوطلبانه توګه اويا دقانون دحکم او عسکری مکلفيت په اساس دمسلحو قواوو په صفوفوکې شامل شوی وي.
۳– هغه شخص چې د مسلحو قواوو برحال منسوب وي او دخدمت موده ئې دقانون دحکمونو مطابق بشپړه شوې نه وي.
۴– هغه شخص چې د احتياط قوتونوته منسوب وي او دبرحالی په وخت کې د جرمي عمل مرتکب ګرځېدلی او د تحقيقاتو د ترسره کولو او محاکمې په خاطر دعسکري محکمې په واسطه احضارېږي.
۵– هغه شخص چې د تزويري سندونو څخه په ګټه اخستنه ئې خپل انفکاک دمسلحو قواوو له صفوفو څخه ترلاسه کړی وي.
۶– هغه شخص چې دمسلحو قواوو له صفوفو څخه تبنتېدلی او

باشد.
۲– شخصی که سن قانونی را تکميل وبه طور داوطلبانه ويا به اساس حکم قانون و يا مکلفيت عسکری شامل صفوف قوای مسلح گرديده باشد.
۳–شخصی که منسوب برحال قوای مسلح بوده و ميعاد خدمت وی طبق قانون تکميل نگرديده باشد.
۴– شخصی که منسوب قوت های احتياط بوده و در زمان برحالی مرتکب عمل جرمی گرديده و به خاطر انجام تحقيقات و محاکمه توسط محکمۀ عسکری احضار می گردد.
۵– شخصی که با استفاده از اسناد تزويری انفکاک خود را از صفوف قوای مسلح حاصل نموده باشد.
۶–شخصی که از صفوف قوای مسلح فرار نموده و گرفتار

نيول شوى وي.

۷- جنګي اسيران او هغه افراد چې دمسلحوقواوو ترنظارت لاندې قرارولري او يا خپله دحبس موده دمسلحوقواووپه محبس کې تېروي.

۸- هغه اشخاص چې دهغوى دجرمي قضيو دڅېړلو واک دهېواد دنافذو قوانينو او نړيوالو پيمانونو او موافقت ليکونو مطابق عسکري محکمې ته تفويض شوي وي.

**دعسکري رتبې تنزيل او کسرمعاش**

پنځمه ماده:

(۱) که چېرې عسکري منسوب دهغه جرم مرتکب شي چې مجازات ئې دشپږومياشتو څخه تريوه کاله پورې حبس وي، عسکري محکمه کولاى شي دحبس دمجازاتو په عوض دهغه ديوې رتبې په تنزيل حکم وکړي.

(۲) که چېرې عسکري منسوب هغه جرم مرتکب شي چې جزائې

گرديده باشد.

۷- اسراى جنگى وافرادى که تحت نظارت قواى مسلح قرار داشته ويامدت حبس خويش را در محبس قواى مسلح سپرى مى نمايند.

۸- اشخاصى که صلاحيت رسيدگى قضاياى جرمى آنها طبق قوانين نافذهٔ کشورو پيمان ها و موافقتنامه هاى بين المللى،به محکمهٔ عسکرى تفويض شده باشد.

**تنزيل رتبهٔ عسکرى و کسرمعاش**

مادهٔ پنجم:

(۱) هرگاه منسوب عسکرى مرتکب جرمى شود که مجازات آن حبس از شش ماه الى يک سال باشد، محکمهٔ عسکرى مى تواند به عوض مجازات حبس به يک رتبه تنزيل وى حکم نمايد.

(۲) هرگاه منسوب عسکرى مرتکب جرمى شود که جزاى آن

ترشپږومیاشتو پورې حبس وي.
عسکري محکمه کولای شي د حبس دجزاء په عوض دمعاش د یوپردریمې برخې په کسرتر شپږومیاشتو حکم وکړي . دمحکوم علیه کسر شوی معاش، د دولت دعوایدو په حساب ،بانک ته تحویلیږي.

طرد

شپږمه ماده:
که چیرې افسر، دقطعې یا مکتبي وړوکی ضابط دهغه جرم مرتکب شي چې مجازات ئې اوږد حبس له لسو کالونوځخه زیات ، دوام حبس یا اعدام وي ، داصلي مجازاتو برسیره ، دلاندې حقوقو او امتیازونو څخه هم محرومیږي:
۱- په مسلحو قواوو (ملي اردو) کې خدمت.
۲- د عسکري علایمو استعمالول، دنښانونواومدالونو تعلیق ، د دولتي لقبونو او نورو امتیازونو ځخه ګټه

حبس الی شش ماه باشد.
محکمهٔ عسکری می تواند به عوض جزای حبس به کسر یک بر سه حصه معاش الی شش ماه حکم نماید. معاش کسر شدهٔ محکوم علیه به حساب عواید دولت تحویل بانک می شود.

طرد

مادهٔ ششم :
هرگاه افسر، خوردضابط قطعه یا مکتبی مرتکب جرمی گردد که مجازات آن حبس طویل بیش از ده سال ، حبس دوام یا اعدام باشد، علاوه برمجازات اصلی ، از حقوق وامتیازات آتی نیز محروم می گردد:
۱- خدمت درقوای مسلح (اردوی ملی) .
۲- استعمال علایم عسکری ، تعلیق نشان هاو مدال ها، استفاده از القاب وسایر امتیازات

اخستنه.

۳- په نورو دولتـــي ادارو کـــې داستخدام حق.

۴- په پارلمان ، ولايتي، ولسواليو او ښاروااليو په شوري ګــانو کــې غړيتوب.

۵-دتقاعد حقوق.

**له دندې څخه ګوښــه کېــدل (برطرفي)**

اوومه ماده:

(۱)که چېرې افسر، دقطعــې يــا مکتبي وړوکی ضابط دهغه جــرم مرتکب شي چې مجازات ئې له يو کال څخه زيات متوسط حبس وي ، دحبس دمجــازاتودتطبيق برســېره، محکمه کولای شي د احوالو ســره سم هغه له دندې څخه ګوښه کړي او داګوښه والی له ملي اردو څخه دبرطرفي درلودونکی دی چــی د هغې پر اساس په حــبس بانــدې محکوم شخص تقاعد ته سوق کېږي .

(۲) افسران ،دقطعې يــا مکتبــې

دولتی .

۳- حق استخدام در ساير ادارات دولتی .

۴- عـــــضويت در پارلمــــان ، شورا های ولايتــی ، ولــسوالی وشاروالی ها .

۵- حقوق تقاعد.

**برطرفـــــــــــــــــی از وظيفه**

مادۀ هفتم:

(۱) هرگاه افسر، خـــورد ضـــابط قطعه يا مکتبی مرتکب جرمی شود که مجازات آن حـــبس متوســـط بيشتر از يک سال باشد، عـــلاوه برتطبيق مجازات حبس ، محکمـــه می تواند حسب احـــوال وی را از وظيفه ســـبکدوش نمايـــد و ايـــن سبکدوشـــــــی دربرگيرنـــــــده برطرفی از اردوی ملی بوده کـــه براســـاس آن شـــخص محکـــوم به حبس به تقاعد سوق می گردد.

(۲) افـــسران ،خـــورد ضـــابطان

وړوکي ضابطان او دملي اردو سربازان چې د جرم د ارتکاب پر اساس دصلاحيت درلودونکې محکمې په وروستني حکم د يوکال تنفيذی حبس په جزا محکوم شوي وي ،خپل محکوم بها حبس دمقررې له مخې په خپله اړونده قطعه کې تيروي .

## دمصادرې حکم

اتمه ماده:

(۱) محکمه کولای شي په هغو مواردو کې چې قانون مصادره دجزاپه توګه نه وي اټکل کړې ، دهغو شيانو په مصادرې چې د جرم له ارتکاب څخه لاس ته راغلي يا دهغه په ارتکاب کې استعمال شوي يا دجرم په ارتکاب کې داستعمال په قصدبرابرشوي وي،حکم وکړي.

(۲)محکمه مکلفه ده چې د جزا دقانون د(۱۳۲) مادې په رعايتولو سره هغه شيان چې وړاندي کول ، خرڅول ،ساتل او استعمال يې په

قطعه يا مکتبی و سربازان اردوی ملی که براساس ارتکاب جرايم به حکم نهايی محکمه ذيصلاح به جزای الی يک سال حبس تنفيذی محکوم به مجازات شوند ، حبس محکوم بها خويش را طبق مقرره درقطعه مربوطه سپری می نمايند .

## حکم مصادره

مادهٔ هشتم:

محکمه می تواند درمواردی که قانون مصادره را به حيث جزا پيشبينی نکرده باشد، به مصادرهٔ اشيايی که از ارتکاب جرم به دست آمده يا در ارتکاب آن استعمال گرديده ويا به قصد استعمال در ارتکاب جرم تهيه شده باشد،حکم نمايد.

(۲) محکمه مکلف است با رعايت مادهٔ (۱۳۲) قانون جزا اشيا يی را که عرضه ،فروش ،نگهداشت و استعمال آن به ذات خود

خپل ذات کې جرم وي ،مصادره کړي.

## په عسکري جرمونو کې ګډون او دهغو پټول (کتمان)

**نهمه ماده:**

دعسکري جرم د ارتکاب سازمان ورکوونکی ، محرک یا شریک او یاهغه شخص چې دجرم د ارتکاب آلات او وسیلې برابرې کړي او یا یې دمجرم په پټولو (اختفا) کې له مخکې نه توافق کړی وي لاس پورې کړي،اصلي مرتکب ته په اټکل شوې عین جزاء محکومېږي.

## دزیان(خسارې) جبرانول

**لسمه ماده:**

که چېرې عسکري منسوب په دې قانون کې د درج شویو جرمونو د ارتکاب په اثر زیان واردکړي ، د وارد شوي زیان په جبرانولو هم محکومېږي.

جرم تلقی می گردد ، مصادره نماید .

## اشتراک در جرایم عسکری و کتمان آن

**مادۀ نهم:**

سازمانده، محرک و شریک در ارتکاب جرم عسکری یا شخصی که آلات و وسایل ارتکاب جرم را فراهم می نماید و یا به اختفای مجرم قبلاً توافق نموده باشد ،به عین جزای پیشبینی شده برای مرتکب اصلی محکوم می گردد .

## جبران خساره

**مادۀ دهم:**

هرگاه منسوب عسکری بالاثر ارتکاب جرایم مندرج این قانون خساره ای وارد نماید به جبران خسارۀ وارده نیز محکوم می گردد.

<u>دحبس دمجازاتو تعليقول</u>

**يوولسمه ماده:**

که چېرې عسکري منسوب هغه جرم مرتکب شي چې جزائې په دې قانون کې تردوو کلونو پورې حبس ښودل شوي وي ، عسکري محکمه دمحکوم اخلاقو،سوابقو او سن او يا نورو احوالو ته په پام سره چې د جرم د ارتکاب سبب شوي ، متيقنه شي چې هغه بيا دجرم نه مرتکب کېږي، کولای شي دحکم دتنفيذ په تعليق تصريح وکړي.

دحکم دتنفيذ دتعليق نورې اړوندې چارې او دهغه لغوه کېدل دجزاء دقانون دحکمونو مطابق صورت مومي.

## دوه يم فصل

## جرمونه او مجازات

<u>له دنده ايز خدمت څخه دعسکري منسوب تعلل</u>

**دوولسمه ماده:**

(۱) که چېرې عسکري منسوب

<u>تعليق مجازات حبس</u>

**مادهٔ يازدهم:**

هرگاه منسوب عسکری مرتکب جرمی گرددکه جزای آن در اين قانون حبس الی دوسال پيشبينی شده باشد، محکمهٔ عسکری نظر به اخلاق، سوابق و سن محکوم و يا احوا ل ديگری که سبب ارتکاب جرم گرديده، متيقن شود که وی دوباره مرتکب جرم نمی گردد، می تواند به تعليق تنفيذ حکم ، تصريح نمايد.

ساير امور مربوط به تعليق تنفيذ حکم و الغای آن مطابق احکام قانون جزا صورت می گيرد.

## فصل دوم

## جرايم ومجازات

<u>تعلل منسوب عسکری از خدمت وظيفوی</u>

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) هرگاه منسوب عسکری از

ددنده ايز خدمت دترسره کولو څخه خپلې روغتياته دعمدي ضرر د واردولو، تمارض ، دتزويري سندونودوړاندې کولو، دمؤظف شخص دتطميع کولو او يابلې حيلې او غولونې په وسيله ، تعلل وکړي، داحوالو سره سم له دووڅخه ترڅلوروکلونو په حبس ، محکوميږي.

(۲) که چيرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم ، دسفرياجګړې يامحاربې په حالت کې ارتکاب شي ، مرتکب داحوالو سره سم له څلورو څخه ترلسو کلونو پورې دحبس په جزاء،محکوميږي.

## دعسکري منسوب پخپل سرغيابت

ديارلسمه ماده:

(۱) که چيرې عسکري منسوب له رخصتی،د روغتيائي مؤسسو خدمتي يا دتعييناتو ياتبديليو په اثنا کې

انجام خدمت وظيفوی به وسيلهٔ وارد نمودن ضرر عمدی به صحت خود، تمارض ، ارايهٔ اسناد مزور، تطميع شخص مؤظف يا حيله وفريب ديگری تعلل نمايد ، حسب احوا ل به حبس از دو الی چهار سال، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده درحالت سفر يا جنگ يا محاربه ارتکاب يابد،مرتکب حسب احوال به جزای حبس از چهار الی ده سال محکوم می گردد.

## غيابت خودسرانهٔ منسوب عسکری

مادهٔ سيزدهم:

(۱) هرگاه منسوب عسکری از رخصتی، خدمتی مؤسسات صحی يا در اثنای تعيينات وتبديلات

دمؤجه عذر پرته خپلې قطعې يا دخدمت محل ته حاضر نشي او يا له خپلې وظيفې څخه په خپل سر غايب او دهغه غيابت له يوې څخه ترشپږو مياشتو پورې دوام وکړي ، د احوالو سره سم دشپږومياشتو څخه تريوه کاله پورې په حبس يا په نقدي جزاء چې لــه درې زره څخه لږ او له لــسو زرو افغــانيو څخه زياته نه وي، محکوميږي.

(۲) که چيرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جـرم ، لــه شپږومياشتو څخــه زيــات وي، مرتکب د احوالو سره سم له يـوه څخــه تــردرې کلونــو پــورې په حبس يادلسو څخه ترشــلوزرو افغــانيو پــورې پــه نغــدي جزاء،محکوميږي.

(۳) که چيرې ددې مادې پــه (۱ او۲) فقرو کې درج شوي جرمونه دسفرپه حالت کې ارتکاب شي او په خپل سرغيابت له دريو شــپو او ورځـــو څخـــه زيــــات وي،

بدون عــذر موجــه بــه قطعــه يا محل خــدمت خــود حاضــر نشود ويا ازوظيفه خــود ســرانه غايــب وغيابــت وی از يــک الــی شــش مــاه دوام نمايــد، حــسب احــوا ل بــه حــبس از شش ماه الی يک سال يا جــزای نقدی که از ســه هــزار کمتــر واز ده هـــزار افغـــانی بيـــشتر نباشد، محکوم می گردد .

(۲) هرگـــاه جــرم منـــدرج فقــرۀ (۱) ايــن مــاده بــيش از شش ماه باشد مرتکب، حسب احـــوا ل بـــه حـــبس از يـــک الـــی ســـه ســـال يـــا جـــزای نقــــــدی از ده الــــــی بيست هــزار افغــانی، محکــوم می گردد.

(۳) هرگـــاه جــرايم منـــدرج فقره هـــای (۱ و۲) ايـــن مـــاده در حالت ســفر ارتکــاب يابــد وغيابـــت خودســـرانه بيـــشتر از سه شبانه روز باشد، مرتکـب

مرتکب د احوالو سره سم له یوه څخه ترڅلورو کلونو پورې دحبس په جزاء محکومېږي.

**دسفریاجګړې یامحاربې په حالت کې دقطعې دپخپل سرترکول**

**څوارلسمه ماده:**

که چېرې عسکري منسوب دسفریا جګړې یا محاربې په حالت کې په خپل سرقطعه یا دخدمت محل ترک کړي، دهغه دمودې له په پام کې نیولو پرته، د احوالو سره سم دیوه څخه ترپنځه کلونوپورې په حبس محکومېږي.

**تېښته**

**پنځلسمه ماده:**

(۱) عسکري منسوب چې له دندې څخه عمداً په دایمي توګه وتښتي ، داحوالوسره سم له دووڅخه ترپنځو کلونوپورې دحبس په جزاء محکومېږي.

(۲) په هغه صورت کې چې ددې

حسب احوال به جزای حبس ازیک الی چهار سال محکوم می گردد.

**ترک خودسرانهٔ قطعه در حالت سفریاجنگ یا محاربه**

**مادهٔ چهاردهم:**

هرگاه منسوب عسکری خودسرانه قطعه یا محل خدمت را درحالت سفریا جنگ یا محاربه ترک نماید، صرف نظر از مدت آن، حسب احوال به حبس از یک الی پنج سال محکوم می گردد.

**فرار**

**مادهٔ پانزدهم:**

(۱) منسوب عسکری که از وظیفه طور دایمی عمداً فرار نماید، حسب احوال به جزای حبس از دو الی پنج سال محکوم می گردد.

(۲) در صورتی که عمل

مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل دسفر يا جگړې يا محاربې په حالت کې ارتکاب شي، مرتکب د احوالو سره سم لـه پنځوڅخـه ترپنځلسو کلونو پورې دحبس پـه جزاء محکومېږي.

## وطن ته خيانت

**شپاړسمه ماده:**

(۱) دعسکري منسوبينو او ددې قانون د نورو تابع اشخاصو عمدي اعمال د استقلال ، ارضي بشپړتيا، ملي حاکميت او دافغانستان د اسلامي جمهوريت ددفاعي قدرت پرضد ، وطن ته خيانت گڼل کېږي اولاندې موردونه پکښې شامل دي:

۱- دښمن سره يوځای کېدل.

۲- دښمن ته د اثرلاندې نيروگانو تسليمول.

۳- دښمن تـه د مرستې پـه منظوردسلاح ، محاربوي تخنيک ، استحکاماتو او دجگړې دپرمخ بيولو دنورو وسيلو ورېښوول.

مندرج فقرهٔ (۱) ايـن مـاده در حالـت سـفريا جنـگ يـا محاربه ارتکاب گردد، مرتکـب حسب احوال به جـزای حـبس پنج الی پـانزده سـال محکـوم می گردد.

## خيانت به وطن

**مادهٔ شانزدهم:**

(۱) اعمـا ل عمـدی منـسوبين عسکری وساير اشخاص تابع ايـن قانون عليه اسـتقلال ، تماميـت ارضی حاکميت ملـی و قـدرت دفاعی دولت جمهوری اسـلامی افغانستان ،خيانت به وطن پنداشته شده وشامل موارد ذيل می باشد:

۱- پيوستن به دشمن.

۲- تسليمی نيروهای تحت اثربـه دشمن.

۳- واگذاری سـلاح ،تخنيـک محاربوی ، اسـتحکامات وسـاير وسايل پيشبرد جنگ بـه منظـور مساعدت به دشمن.

۴- د دولتي قدرت دنيولـــو پـــه مقصد، د دولت پرضد توطئه.

۵- د دولت پرضد دګتې اخستنې په غرض ، بهرني دولت ، دولتـــي ضـــد ســـازمانونو او دهغـــو جاسوسانوته دتسليمولو په منظـــور دمسلحو قواوو، دوطـــن د دفـــاع په لاره کې دمحاربوي عمليـــاتو، داحضاراتو دنيولو، دهېواد د دفاعي وړتيا او دنورو معلوماتو غلاکول او دپټو معلوماتو ټولول.

٦- دمـــسلحو قواوودمحـــاربوي وړتيا پرضد دعسکري منسوبانوپه منځ کې تبليغـــات او دافغانـــستان اسلامي جمهوريت پرضد دهرډول خصمانه عملونو ترسره کول.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کـــې ددرج شويو جرمونو يو له مرتکبينو څخه ، داحوالو سره سم له پنځلسو څخه ترشل کلونوپورې دحبس په جزايا اعدام محکومېږي.

(۳) که چېرې عسکري منـــسوب دافغانستان اســـلامي جمهوريـــت

۴- توطئه عليه دولت به مقـــصد گرفتن قدرت دولتی .

۵- ســـــرقت وجمـــــع آوری معلومات سری راجع بـــه قـــوای مـــسلح ، عمليـــات محـــاربوی جهت دفاع از وطـــن ، گـــرفتن احـــضارات ، قابليـــت دفـــاعی کشور وساير معلومـــات غـــرض استفاده عليه دولت بـــه منظـــور تسليمی به دولت خارجی ، سازمان های ضد دولتی يا جواسيس آنها.

٦- تبليغات در بـــين منـــسوبين عسکری عليه قابليت محـــاربوی قوای مـــسلح وانجـــام هرنـــوع اعمال خصمانه عليـــه جمهـــوری اسلامی افغانستان .

(۲)مـــــــرتکبين يکـــــــی از جرايم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده، حسب احوال به جـــزای حـــبس ازپانزده الی بيست سال يا اعـــدام محکوم می گردد.

(۳) هرگاه منسوب عسکری جهت اجرای اعمـــا ل خـــصمانه عليـــه

پرضد دخصمانه عملونو دترسره کولو لپاره ، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شویو عملونو په ارتکاب ، بهرني دولت ، دولتي ضد سازمان یا دهغوله جاسوسانو سره موافقه وکړي، په هغه صورت کې چې په عمل له اقدام مخکې دولتي ارگانونوته داوطلبانه له موضوع څخه خبرورکړي، له مجازاتو څخه معافېږي.

**د ډار او وهم له اثره تسلیمېدل**

**اووه لسمه ماده:**

که چېرې عسکري منسوب د ډار او وهم له اثره دښمن ته تسلیم شي، د احوالو سره سم له یوه څخه تر پنځوکلونوپورې دحبس په جزاء محکومېږي.

**دمحاربې له صحنې څخه تېښته یادوسلې له استعمالولو څخه امتناع**

**اتلسمه ماده:**

که چېرې عسکري منسوب د محاربې

جمهوری اسلامی افغانستان در ارتکاب اعمال مندرج فقرهٔ(۱) این ماده با دولت خارجی ، سازمان ضد دولتی یا جواسیس آن ها موافقت نماید در صورتی که قبل از اقدام به عمل، به ارگان های دولتی داوطلبانه از موضوع اطلاع دهد، از مجازات معاف می گردد.

**تسلیمی از اثرترس و وهم**

**مادهٔ هفدهم:**

هرگاه منسوب عسکری از اثر ترس ووهم به دشمن تسلیم گردد، حسب احوال به جزای حبس از یک الی پنج سال محکوم می گردد.

**فرار از صحنهٔ محاربه یا امتناع از استعمال سلاح**

**مادهٔ هجدهم:**

هرگاه منسوب عسکری از صحنهٔ

له صحنې څخه وتښتي يا دوسلې له استعمالولو څخه د محاربې په اثنا کې امتناع وکړي ، داحوالوسره سم له پنځوڅخه ترلسوکلونو پورې دحبس په جزاء محکومېږي.

**دښمن ته دجګړې دپرمخ بيولو دوسيلو پرېښودنه**

**نولسمه ماده:**

که چېرې عسکري منسوب محاربوي تخنيک ، وسله ، استحکامات يا نور دجګړې دپرمخ بيولو وسايل دښمن ته چې دجګړې حالت هغه ايجاب نکړي او دهغه هدف وطن ته خيانت نه وي ، پرېږدي، داحوالو سره سم له دووڅخه ترلسوکلونو پورې دحبس په جزاء محکومېږي.

**نه اطاعت**

**شلمه ماده:**

(۱) که چېرې عسکري منسوب دآمردقانونی امرله ترسره کولو

محاربه فرار يا از استعمال سلاح در اثنای محاربه امتناع ورزد، حسب احوا ل به جزای حبس از پنج الی ده سال محکوم می گردد.

**واگذاری وسايل پيشبرد جنگ به دشمن**

**مادۀ نزدهم:**

هرگاه منسوب عسکری تخنيک محاربوی ، سلاح ، استحکامات يا ساير وسايل پيشبرد جنگ را به دشمن که حالت محاربه آنرا ايجاب نکند وهدف آن خيانت به وطن نباشد، واگذار شود. حسب احوال به جزای حبس از دو الی ده سال محکوم می گردد.

**عدم اطاعت**

**مادۀ بيستم:**

(۱) هرگاه منسوب عسکری از اجرای امر قانونی آمر

څخه صريحاً امتناع وکړي يا عمداً دهغه له ترسره کولو خودداري وکړي، دهغه دغه عمل نه اطاعت ګڼل کېږي، داحوال سره سم له شپږومياشتو څخه تريوه کاله دحبس په جزاء محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل دسفر يا جګړې يامحاربې په حالت کې ارتکاب وموم، مرتکب د احوالو سره سم له يوه څخه ترپنځوکلونو پورې دحبس په جزاء محکومېږي.

## دآمرتهديدول

يوويشتمه ماده:

(۱) که چېرې عسکري منسوب ، آمر دعسکري دندو دترسره کولو په اړوند په ضرب او جرح يا وهلو او ټکولو يا وژلو تهديد کړي، داحوالو سره سم له يوې مياشتې څخه تريوکال دحبس په جزاء

صريحاً امتناع ورزد يا عمداً از اجراى آن خود دارى نمايد، اين عمل وى عدم اطاعت پنداشته شده، حسب احوال به جزاى حبس ازشش ماه الى يک سال محکوم مى گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده در حالت سفريا جنگ يامحاربه ، ارتکاب يابد، مرتکب حسب احوا ل به جزاى حبس يک الى پنج سال محکوم مى گردد.

## تهديد آمر

مادهٔ بيست و يکم:

(۱) هرگاه منسوب عسکرى آمر را به ارتباط اجراى وظايف عسکرى به ضرب وجرح يا لت وکوب ياقتل تهديد نمايد، حسب احوال به جزاى حبس ازيک ماه الى يک سال

محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي عملونه دسفر یاجګړې یامحاربې په وخت کـې ارتکاب ومومي ، مرتکب د احوالو سره سم له شپږومیاشتو څخه تـر درې کلونو دحـبس پـه جـزاء محکومېږي.

## دعسکري منسوب توهین

دوه ویشتمه ماده:

(۱) که چېرې عسکري منـسوب خپل آمر یـا مـادون پـه غیـر اجباري عمل چې دعسکري شرف او حیثیت دتحقیر موجب شـي ، توهین کړي، له یوې څخه ترشپږو میاشتو دحبس په جزاءمحکومېږي.

(۲) که چېرې عسکري منـسوب خپل آمر یا مادون په اجباري عمل چې دعسکري شرف او حیثیـت دتحقیر موجب شي، توهین کړي، د احوالو سره سم له درې څخه تـر شپږومیاشتو دحـبس پـه جـزاء

محکوم می گردد.

(۲) هرگـاه اعمـا ل منـدرج فقرهٔ (۱) ایـن مـاده در زمـان سفر ، یـا جنـگ یـا محاربـه ارتکاب یابد ،مرتکـب حـسب احوال به جزای حبس از شش ماه الـی سـه سـال محکـوم می گردد.

## توهین منسوب عسکری

مادهٔ بیست و دوم:

(۱) هرگاه منسوب عسکری آمـر یا مادون خود را باعمل غیر اجباری که موجب تحقیر شرف وحیثیـت عسکری گردد، تـوهین نمایـد، حسب احوال به جزای حبس ازیک الی شش ماه محکوم می گردد.

(۲) هرگاه منسوب عسکری آمـر یا مأدون خود را باعمل اجبـاری که موجب تحقیر شرف وحیثیت عسکری گردد، تـوهین نمایـد، حسب احوال به جـزای حـبس از سه الی شـش مـاه محکـوم

محکومېږي.

**پہ اجباري عمل سره ديوه عسکر په واسطه دبل عسکر توهين**

**درويشتمه ماده:**

که چېرې يوعسکر ، بل عسکر چې دهغو ترمنځ دآمريت او مادونيت اړيکې موجودې نه وي، توهين کړي ، د احوالو سره سم له يوې څخه ترشپږو مياشتو دحبس په جزاء محکومېږي.

**عسکري بغاوت**

**څلېريشتمه ماده:**

که چېرې عسکري منسوبين په شوراو غوغا په ښکاره ټولنې سره دخپل آمر په وړاندې په بې اطاعتي يامقاومت سره په تعرض اقدام وکړي، دغه عمل عسکري بغاوت محسوبېږي، دهغه مرتکبين د احوالو سره سم دحضرپه حالت کې له يونه ترپنځوکلونوحبس په جزاء، دسفرپه حالت کې له دوونه ترلسو

می گردد .

**توهين يک عسکر توسط عسکر ديگر باعمل اجباری**

**مادهٔ بيست و سوم:**

هرگاه يک عسکر،عسکر ديگری راکه دربين آن ها ارتباط آمريت ومادونيت موجودنباشد، توهين نمايد،حسب احوال به جزای حبس از يک الی شش ماه محکوم می گردد.

**بغاوت عسکری**

**مادهٔ بيست و چهارم:**

هرگاه منسوبين عسکری با شور وغوغا به اجتماع علنی در برابر آمر خود با بی اطاعتی يا مقاومت به تعرض اقدام نمايند اين يک عمل بغاوت عسکری محسوب شده، مرتکبين آن حسب احوال درحالت حضر به جزای حبس يک الی پنج سال در حالت سفر به جزای حبس دو

کلونو دحبس په جزاء،دجګړې په حالت کې دپنځو نه ترپنځلسوکلونو دحبس په جزاء اودمحـاربې پـه حالت کې له لسونه ترشلو کلونـو دحبس په جزاء محکومېږي.

**<u>د نوکريوالۍ دترسـره کولـو دمقرراتو نقضول</u>**

**پنځه ويشتمه ماده:**

(۱) که چېرې دنوکريوالۍ دجزوتام په ترکيب کې شـامل عـسکري منسوب چـې د اړونـده آمرپـه واسطه ددښمن دناڅـاپي حملـې دمخنيوي لپـاره توظيـف شـوی وي، دنوکريوالۍ دترسره کولـو مقررات نقض کـړي، داحوالـو سره سم له شپږومياشـتو څخـه تريوه کاله دحـبس پـه جـزاء محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل دسـفر، جنګ يادمحاربې په حالـت کـې ارتکاب وومومي يا د درنو عواقبـو

الی ده سال، درحالت جنـگ بـه جزای حبس پـنج الـی پـانزده سـال ودرحالـت محاربـه بـه جزای حبس ده الی بيست سـال محکوم می گردند .

**<u>نقـض مقـررات اجـرای نوکريوالی</u>**

**مادهٔ بيست و پنجم:**

(۱) هرگاه منـسوب عـسکری شـامل ترکيـب جزوتـام نوکريوا ل که توسط آمر مربوطـه جهـت جلـوگيری از حملـهٔ ناگهانی دشـمن توظيـف شـده باشـد، مقـررات اجـرای نوکريوالی را نقض نمايد، حـسب احوال به جزای حبس از شش ماه الـی يـک سـال محکـوم می گردد .

(۲) هرگـاه عمـل منـدرج فقرهٔ (۱) ايـن مـاده در حالـت سفر،جنگ يا محاربـه ارتکـاب يابد يا موجب عواقـب سـنگين

